تسليمه نسرين
ژباړه: فرهاد ویاړ

۰۷.۰۳.۰۹

## حجاب

هغي ته يي سري جامي واغوستي
سري، هغه رنګ چي سترګي بريښوي
له غاړي يي ورته غاړکی راځوړنده کړه
لکه د اوسارو په شان چي ښاروېو ته يي تړي
***
غوږونه او پوزه يي ورته سوري کړل
او له هغي يي اوسپني راځوړندي کړی
شايد د اوسپني ځل هغه ښايسته کړي.
***
مړوندونو ته يي ګينګړي ورواچول
د ګاني يا د کړي په شان
پښو ته يي ګينګړي ورواچول
چي هميشه پوه شي هغه چيري ده.
ځيره يي ورته په رنګونو ولړله
ګواکي چي بی ځانه شئی رنګوئ
ښايی سترګي، شونډي او اننګي يي کافی نه وو
بشپړ نه وو.
***
او په دي ډول له انسان نه کالي جوړيږي
په کلي کي          په ښار کي
د شتمنو په سيمو کي          په بدنامو ميږنو کي
د دي هيواد په هر ځای کي          د دي نړی په هر ځای کي

***
کله نا کله احمقي ښځي ځانونه په ځنځيرونو کي تړي
څو خپل هوس پوره کړي
او  هغوی چي دا ځنځيرونه ماتوي
په نورو ځنځيرونو کي تړل کيږي.